مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند

۲۰۱۹/۰۷/۳۰

# «توره...»

## د استاد بېنوا لیک

## او

## د علامه رشاد څو جملې



علامه رشاد



استاد بېنوا

استاد بېنوا او علامه رشاد د افغانستان، سیمې او نړۍ په ادبیاتو او فرهنګ کې د ځانګړو دریځونو او سبکونو درلودونکي شخصیتونه دي. د دوی په باب خبرې کول، د افغانستان د ادبیاتو، ژبو، سیاست، تاریخ، هنر او په ټول کې د فرهنګ په باب خبرې کول دي.

د استاد بېنوا او علامه رشاد له شخصیتونو، کارنامو او آثارو پرته، زموږ معاصر تاریخ، ادبیات، ژورنالیزم او فرهنګ نیمګړی برېښي. په عام ډول د افغانستان او په ځانګړي ډول د پښتو ژبې او ادبیاتو په اوسني تاریخ کې د دوی تخلیقي، تاریخي او څېړنیز آثار، د معاصر فرهنګي بهیر بشپړونکي دي. استاد بېنوا او علامه رشاد زموږ د ادبیاتو او فرهنګ نه تکرارېدونکي څېرې دي.

زه د دې لنډو کرښو په ترڅ کې نه غواړم د استاد بېنوا او علامه رشاد د ژوندلیکونو په باب څه ووایم. د دوی ژوند لیکونه په بېلابېلو ځایونو کې په چاپي او آنلاین ډول تر لاسه کېدای شي. د ترلاسه کېدو او لوستلو ډېره اسانه پته یې ویکیپېډیا ده چې د «عبدالروف بېنوا» او «عبدالشکور رشاد» تر سرلیکونو لاندې هلته پیدا کېدای شي.

په دې لنډه مقاله کې بحث د استاد بېنوا پر هغه لیک دی چې له لیبیا څخه یې د نورو ګڼو لیکونو په ترڅ کې، د خپل ډیپلوماتیک ماموریت په موده کې علامه رشاد ته لېږلی و. ما (اصف بهاند) د دې لیک یو متن لیدلی و هغه هم په «هیله» مجله کې (پرله پسې پنځه ویشتمه ګڼه، ۵ ـ ۶ مخونه).



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په یاد مي نه دي چي څه وخت او چیري، خو له لیدلو او لوستلو وروسته مي، په هماغه ځای کي پرنت او خوندي کړ. څو ورځي مخکي مي د زړو یادداشتونو د بیا ځلي لیدلو په ترڅ کي سترګي پري ولګېدې، بیا مي ولوست او په زړه کي مي تېر شول چي راځه دا په کمپیوټر کي ټیپ او له لوستونکو سره يې شریک کړه.

د استاد بېنوا د دي لیک (توره...) بل چاپ زما له نظره نه دی تېر شوی، خو کله مي چي د همدې لیک په باب له استاد معصوم هوتک نه ځیني پوښتني کولې، د تیلیفوني بندار په ترڅ کي یې د همدې لیک د یو بل چاپ په باب داسي راته وویل:

«د استاد بېنوا دا لیک د نثرونو په یوه ټولګه کي چي «ادبي نثرونه» نومېږي؛ هم چاپ شوی دی. د نثرونو یاده ټولګه د علامه رشاد د لومړي تلین په مناسبت، له کندهار ښخه، د علامه رشاد اکادیمی له خوا خپره شوې ده او د دغي ټولګي په څلور دېرشم (۴۳) او پنځه دېرشم (۳۵) مخونو کي راغلی دی.»

د استاد بېنوا په لیک کي او د علامه بابا په څو کرښو کي د «سري سپی» او «توره...» یادونه شوې ده. سره سپي له کوکرکیو سره چا افغانستان ته راوسته؟ او څنګه بېرته ووتل؟ : څوک یې وياړ ګڼي او څوک یې شرم؛ په تاریخ او میډیا کي هر څه ثبت دي.

اصلي خبره اوس دا ده چي سري سپی او کوکرکیو یي له تګ وروسته زموږ په وطن کي داسي مرداری او ستونزي پرېښي دي، چي افغانان د خپلي ناپوهی له مخي، اوس هم یو د بل سر وهلو او وینو څکلو ته تږي دي؛ خو توره سپی او ورنه زېږېدلي کوکرکي یې د «جهاد او مقاومت؟» په نامه، دا ډېره موده وسله په لاس له عسکري بوټو سره زموږ د خلکو پر ستوني باندي ولاړ او هر څه خپل «غنیمت؟» ګڼي.

زما له نظره د استاد بېنوا دا لیک او د علامه بابا څو جملې د یو ستر سیاسي ـ تاریخي طنز حیثیت لري او له بده شامته چي دا ژړونکی او خندونکی طنز دا ډېره موده زموږ د وطن پر سیاسي ستېژ باندې، زموږ د هېوادوالو د غوښو او وینو په بیه ښودلو ته وړاندي کېږي.

دا هم د استاد بېنوا لیک او ورسره د علامه رشاد څو جملې:«

## توره...

ښاغلی استاد عبدالرؤف بېنوا دي خدای وبخښي، کله چي په لیبیا کي د افغانستان لوی سفیر و، په دوو درېوو هفتو کي یې یو لیک ما ته رالېږه.

په دغو لیکونو کي یې په یوه لیک کي داسي کښلي وو:

په لیبیا کي د افغانستان سفارت دوه پوړیزه دی، په دویم پوړ کي زه اوسم او په لاندي پوړ کي د افغاني سفارت دفتر دی. یوه ورځ سهار وختي د پلي ګرځېدلو په نیامت زه د سفارت انګړ ته راکښته سوم. که ګورم د سفارت په انګړ کي یو سپی په شګو کښي غزېدلی دی او خپل شیني ګروي. زه ورو ـ ورو ورنږدې سوم او په خښم مي ورته وویل:

ته نه پوهېږې چي دا د افغانستان سفارت دی، وځه، ژر وځه، کنه...

سپی له ځایه ونه خوځېد، هسي یې داړي راته سپیني کړلې، خو راته ویې نه غپل. ما ته نور هم خښم راغی، ګمان مي وکړ چي راباندي ویې خندل. بیا مي له ځانه سره وویل:

پېژندلی یې نه یې، دا مردارخور نه پوهېږي چي زه په لیبیا کښي د افغانستان لوی سفیر یم.

په تلوار د سفارت د ودانۍ لوړ پوړ ته وختلم، هلته مي د دیپلوماتانو دریشي واغوستله، بو مي وتړله، د سر ویښتان کي ږمنځ کړل او څه کولونیا مي هم په غاړه پوري وموښله، په دیپلوماتیکو ادابو راکښته سوم. دا پلا مي په ډېر خښم ، پر سپي ږغ کړ:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

اوس خو به مې پېژني چې د افغانستان سفير يم، زه حکم کوم ژر وځه، دا د افغانستان سفارت دی، نه ستا کوډله.

سپي دا پلا په خبنم راته وغپل او په غپا کې يې په خورا بې پروايي راته وويل:

ته که داسي مېړه يې، خپل ملک ته ولاړ سه، هلته سره سپي لنګه شوې ده او کوټريو يې ستاسو ملک په سر اخيستی دی، ته که غيرت لرې، هغه سره سپی له خپلي مېنې وباسه او کوټري يې پسي واخله.

ما چې د سپي له خولي دا زياړې واورېدې، ډېر خوښ سوم، ژر مې سپي ته شا وروګرځوله او د سفارت لوړ پوړ ته مې په ختلو پيل وکړ. په ځينو (زينو) کې چې ختلم، اوښکي مې پر مخ رابهېدلې. په خپله خونه چې ننوتلم، د ملک پر بده ورځ مې ډېر وژړل.

ما چې د ښاغلي استاد بېنوا دا ليک په دې ورځو کې بيا ولوست، له ځانه سره مې وويل:

اوس که ښاغلي استاد بېنوا ژوندی وای او د افغان سفارت له غولي څخه يې د ليبيايي سپي د ايستلو هڅه کړې وای، هرومرو به ليبيايي سپي په توصيفي ترکيب کې د سرې پر ځای «توره» کلمه د صفت په توګه کار کړې وای.»

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ